# د ادبي څېړني
# میتودولوژي

څېړنپوه محمد نبي صلاحي

د ادبي څېړني میتودولوژي

څېړنپوه محمد نبي صلاحي

# Literary Research Methodology

Professor Mohammad Nabi Salahi

2022

ISBN 978-9936-661-34-9

9 789936 661349

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# د ادبي څېړنې میتودولوژي

خېړنپوه محمدنبي صلاحي

کال: ۱۴۰۱هـ.ش

## د کتاب پېژندنه


**د کتاب نوم:** **د ادبي څېړنې میتودولوژي**

**لیکوال:** څېړنپوه محمد نبي صلاحي

**ایډیټور او مهتمم:** څېړندوی احسان الحق کبیر

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د لیکلو کال:** ۱۳۹۸ل کال

**د چاپ کال:** ۱۴۴۴هـ.ق (۱۴۰۱هـ.ش)

**د چاپ ځای:** لایف ستار

**ISBN:** 978-9936-661-44-8



**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي.**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ


د لارښود استاد گزارش.......................................أ

تقریظ .......................................ز

تقریظ.......................................ي

تقریظ.......................................س

تقریظ.......................................ش

سریزه.......................................۱

## لومړی څپرکی

## د موضوع شالید.......................................۹

## دویم څپرکی

## د څېړنې عمومي مفهوم .......................................۴۷

۱. د څېړنې پېژندنه.......................................۴۷

۲. د څېړنې موخه او هدف.......................................۵۴

۳. د څېړنې ارزښت او اهمیت.......................................۶۳

۴. د څېړنې ډولونه.......................................۶۸

۵. له نورو علومو سره د څېړنې اړیکې.......................................۷۶

۶. د څېړنې ځانگړنې.......................................۸۰

## دریېم څپرکی

## د ادبي څېړنې میتودولوژي.......................................۱۰۷

۱. د ادبي میتود پېژندنه.......................................۱۰۷

۲. د ادبي څېړنې اصول او لارې ........................ ۱۱۵
۳. د ادبي مطالعاتو او ادبي څېړنو ډولونه ........................ ۱۱۹
الف) ادبي تیوري ........................ ۱۲۲
ب) ادبي کره کتنه ........................ ۱۳۰
ج) ادبي تاریخ ........................ ۱۴۵
هـ) متنپوهنه ........................ ۱۶۷

## څلورم څپرکی

**د ادبي څېړنې عملي لارې چارې ........................ ۱۷۵**
۱. د موضوع ټاکنه ........................ ۱۷۵
۲. د لارښود استاد ټاکنه ........................ ۱۸۲
۳. د څېړنې نقشه او خاکه جوړول ........................ ۱۸۹
۴. د موادو د سرچینو پلټنه او پېژندنه ........................ ۱۹۱
۵. د موادو راټولونه ........................ ۱۹۴
۶. د موادو مطالعه او یادښت اخیستل ........................ ۱۹۶
۷. د یادښتونو ډلبندي ........................ ۱۹۸
۸. د څېړنې لپاره د میتود ټاکنه ........................ ۱۹۹

## پنځم څپرکی

**د ادبي څېړنې د لیکنې پړاوونه ........................ ۲۱۱**
۱. د اثر د لیکلو شرایط او وختونه ........................ ۲۱۱
۲. د څېړنیز اثر د بیان ژبه او د افادې طرز ........................ ۲۱۴
۳. د معلوماتو تحلیل او تفسیر ........................ ۲۱۹

۴. د څېړنيز اثر جوړښت او چوکاټ ........................................ ۲۲۶
۵. سريزه ........................................................................ ۲۲۹
۶. د اثر متن ( مرکزي برخه ).................................................... ۲۳۸
۷. د څېړنې پايله ................................................................ ۲۴۰
۸. عملي وړانديزونه............................................................ ۲۴۲
۹. ضميمه........................................................................ ۲۴۶
۱۰. د څېړنيز اثر بيا کتنه ........................................................ ۲۴۷

## شپږم څپرکی

**د څېړنيز اثر د بشپړتابه تخنيکي اړخونه ........... ۲۵۳**
۱. د مأخذونو ښودنې لارې چارې.............................................. ۲۵۳
الف) لمن ليکونه............................................................. ۲۶۴
ب) د منابعو او سرچينو ليکلړ ................................................ ۲۶۶
۲. تعليقات...................................................................... ۲۶۹
۳. نومليک (نومښود ـ Index )ځای نومونه، وګړنومونه او د آثارو نومونه ۲۷۱
پايله........................................................................... ۲۷۵
وړانديزونه .................................................................. ۲۷۹
مأخذونه...................................................................... ۲۸۱

# د لارښود استاد گزارش

((د ادبي څېړنې میتودولوژي)) د هغې علمي- څېړنیزې پروژې سرلیک دی چې د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت د ادبیاتو او متنپوهنې څانگې غړي څېړنوال محمدنبي صلاحي د څېړنپوه علمي پوړ ته د لوړاوي لپاره له (۱۱۵) باوري کورنیو او بهرنیو سرچینو څخه په استفاده بشپړه کړې ده.

پروژه د څېړونکي پر سریزې سربیره چې په کې د موضوع اهمیت، مبرمیت او د ترسره شوي څېړندود (میتود) او څرنگوالي بیان شوی، شپږ څپرکي، پایله، وړاندیزونه او په پای کې د مأخذونو لیکلړ لري، زه یې د لارښود استاد په حیث د تر سره شوي کار د څرنگوالي په اړه خپل نظر په لاندې شرحه او تفصیل وړاندې کوم:

څېړنه په عام ډول د لیکنې په یوې ځانگړې لاره او روش د ناڅرگند حقیقت پلټنه او سپړنه ده. په بله وینا: د یوې ټاکلې موضوع په باب رښتینې، ژوره او عالمانه پلټنه ده چې په کې حقایق، واقعیتونه او مسایل تحلیل او تفسیر کېږي. څېړنه د یو لړ داسې قواعدو او مقرراتو ټولگه هم بللی شو چې موږ ته دا را ښیي، چې څنگه کولی شو د یوې ځانگړې موضوع په باب واقعیتونه او حقیقتونه وپلټو.

څېړنه د بشري پوهې په وده او پرمختیا کې ستر ارزښت او ټاکونکی اهمیت لري. انسان د خدای ورکړې فکري ځواک او استعداد په وسیله د خپلو تجربو، مشاهدو، پلټنو او څېړنو په پایله کې د پرمختگ اوسني پړاو ته را رسیدلی او له یوې ورځې بلې ته مخ پر وړاندې روان دی. د بشري تاریخ په اوږدو کې له حضرت آدمه تر دې دمه دا دود و او دی، چې هر لومړی نسل خپله پوهه د تجربو، څېړنو او پلټنو د نتیجو په توگه خپل هم مهالي نسل ته لېږدوي او دغسې یې ورپسې نسل ته لېږدوي.

په دې کې شک نشته چې د هرې بریالۍ څېړنې پای او لاسته راوړنه یوه موندنه وي؛ نو څېړنه په واقعیت کې د حقیقت موندنې او تر لاسه کولو لپاره یوه بنسټیزه لاره ده. دا چې د پوهې، علم، هنر او ادب د پراختیا او پرمختیا لپاره څېړنه ډېره اړینه

ده، نو ځکه د بشـر د مادي او معنوي اړتیاوو د پوره کولو لپاره د علومو او فنونو د بېلابېلو برخو او څانګو پوهان څېړنې کوي او له همدې څخه په نړۍ کې د علومو د پراختیا او پرمختیا په موخه موږ ته د څېړنې ماهیت، اهمیت او ارزښت ښه را جوتېدلی شي.

یوه غوره څېړنه او غوره څېړونکی خپلې ځانګړنې لري چې هغه په دې علمي- څېړنیزه پروژه کې په مناسب تفصیل سره بیان شوي دي، دلته مهمه خبره د ادبي څېړنو په میتودولوژي ده، ادبیات د پېژندنې، څېړنې او مطالعې لپاره خپل ځانګړي اصول لري چې ادب پوهانو هغو ته د ادبي څېړنې د میتودولوژۍ نوم ورکړی دی. ((میتود)) داسې یوې منل شوې کړنلارې ته ویل کېږي چې له یو مشخص، د منلو وړ، منطقي، منظم پلان او طرحې سره تطبیق او پلی شي. دلتـه چې خبره پـه ادبي څېړنو پورې اړه لري، نو بنسـټیزه پوښـتنه په کې دا ده چې ادبي څېړنې او مطالعات باید څرنګه تر سره شي؟ آیا د دې ډول څېړنو لپاره هم داسـې ټاکلې او منلې لارې او روشــونه شــته چې هر ډول ادب پوهنیزې څېړنې پرې وشي؟ ځواب یې ((هو)) دی، خو پـه دې توپیر چې موږ نشــو کولی ادبیـات هم کـټ مـټ پر هغو لارو او طریقو چې پـه طبیعي علومو کې کـارول کېږي وڅېړو او مطالعه یې کړو. د طبیعي علومو د عیني لارې او روش (میتود) پرتـه چې هغـه هم ځینې څېړونکي پـه ډېر لږ توپیر چې په ادبیاتو کې داســې عمومي اصــول پلټي چې پر کُلي تصــوراتو، لکه: عینیـت، عمومیـت او قطعیـت باندې ولاړ وي، آدبي پدیدې ( آثار) له دې لارې د عیني واقعیتونو پـه توګه په بشــپړه بې طرفۍ سره مطالعه او څېړي، نو د ادبي څېړنو لپاره خپل ډېر مشهور میتودونه او لارې تشـریحي میتود، پرتلیز میتود، ادبي- علمي څېړنیز میتودونه دي چې څېړونکی هغه په دې څېړنه کې را پېژني.

د ادبي څېړنې او مطالعاتو لپاره د میتودولوژۍ موضوع اهمیت او مبرمیت ته په کتنـه د علومو اکـاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښــتو ژبې او ادبیاتو انســتیتوت په څېړنیزې کړنلارې او پلان کې د ادبي څېړنې میتودولوژي شــامله وه چې هغه یې د

یوې شــپېرکلنې علمي- څېړنیزې پروژې پـه توگـه څېړنوال محمدنبي صــلاحي ته سپارلې وه چې زما په لارښـوونه یې بشـپړه کړې ده. نوموړې د افغانسـتان د علومو اکاډمۍ د عالي شـورا تر تائید او تصـویب وروسـته موضـوع د ټاکلیو مفرداتو له مخې پـه شـــپږو لویو څپرکوکې د لویو، منځنیو او ځنگزنو سرلیکونو لاندې په دې ترتیب بشپړه کړه:

لـه سریـزې وروسـته چـې پـه کـې د موضـوع اهمیـت، مبرمیـت، څېړنـدود او د څېړنیـزې موضـوع د تـرسره کیـدو څرنگـوالی بیـان شـوی، پـه لـومړي څپرکـي کـې د موضـوع شـالید بیـانوي او د موضـوع پـه اړه د مخـه شـوی خـور اورکـار د تحلیلي پېژنـدنې او کـره کتنـې پـه تـرڅ کـې د هغـو ارزونـه کـړې او پـر هغـو یـې د خپلـې تـر سره کـړې څېړنـې پـوره تـوب او کـره تـوب زبـات کـړی دی. دویـم څپرکـی څېړنـه څـه تـه وایـي؟ یـوې تـولنیزې پوښـتنې بانـدې پیلېـږي چـې پـه کـې د څېړنــې پـر لغـوي او اصـطلاحي پېژنـدنې سربېـره د څېړنــې موخـه، ارزښـت او اهمیـت، د څېړنــې ډولونـه او لـه نـورو علومـو او فنونـو سره اړیکــې، د یــوې غــوره څېړنــې او ښــه څېړونکــي ځــانگړنې پــه مناســب تفصــیل سره داسـې بیـان شـوي چـې لـه لوسـتونکو سره د څېړنـې پـه هراړخیـزه پېژندنـه کـې مناسبه او پر ځای مرسته کولی شي.

درېیم څپرکی د ادبي څېړنې څېړندود( میتودولوژي) ته ځانگړی شوی چې نه یوازې د ادبي څېړندود په باب مفصل بحث لري، بلکې د ادبي څېړنې بېلابېل اصول او لارې، د ادبي مطالعاتو او ادبي څېړنو ډولونه (د ادبپوهنې اصلي او فرعي څانگې: ادبي تیوري، ادبي کره کتنه، ادبي تاریخ، ادبي پرتلنه او متنپوهنه) تر ځانگړو سرلیکونو لاندې د ادبي مطالعاتو او څېړنو د مهمو برخو په توگه راپېژني او د هغو له ځانگړو څېړندودونو مو هم خبروي. په څلورم څپرکي کې د ادبي څېړنې عملي لارې چارې ښودل شوي چې د موضوع ټاکنه، د لارښود استاد ټاکنه، د څېړنې نقشه او خاکه جوړول، د موادو د سرچینو پلټنه او پېژندنه، راټولونه، مطالعه او یادښت

اخيستنه او د هغو ډلبندي او بيا وروسته د څېړنې لپاره د يو څېړندود ټاکنه په کې په ترتيب سره په مناسب تفصيل سره تشـريح شوي دي، پنځم څپرکی د ادبي څېړنې د پړاوونو تشريح ته ځانگړی شوی چې په ترتيب سره په کې د اثر د ليکلو شرايط او وختونه، د څېړنيز اثر د بيان ژبې او د افادې طرز، د معلوماتو تحليل او تفسير، د څېړنيز اثر په جوړښت او چوکاټ کې شاملې برخې (سريزه، د اثرمتن، د څېړنې پايله، عملي وړانديزونه، ضميمې، د څېړنيز اثر بيا کتنه) پورې اړوند موضوعات بيان شوي دي، وروستی يا شپږم څپرکی د يو څېړنيز اثر د بشپړتابه تخنيکي اړخونه راپېژني او په ترتيب سره د مأخذ ښودنې معاصرې لارې چارې (لمن ليکونه او د منابعو او سرچينو ليکلړ)، تعليقات، نوم ښود (ځاينومونه، وگړنومونه او د آثارو نومونه) چې معاصره څېړنه يې د څېړنې تخنيکي اړخونه گڼي، د لازمو تشريحاتو په ترڅ کې راپېژني او د ټولو بحثونو په لنډيز او پايلې، وړانديزونو او د هغو سرچينو (اخځليکونو) په ليکلړ چې د دې څېړنې په بشپړولو کې ور څخه گټه اخيستل شوې، دغه څېړنه پای ته رسېدلې ده.

د موضوع په اړه د مخه د ترسره شوي کار شاليد ته په کتنه هم دا څرگندېږي چې ډېرې لږې خورې ورې ليکنې او ژباړې تر دا مهاله په چاپي رسنيو (اخبارونو، مجلو) او يا په ځينو چاپي آثارو کې په ضمني توگه شوې وې، خو کوم ځانگړی څېړنيز اثر نه و ليکل شوی؛ نو ځکه د دې موضوع څېړنه، د دې وخت يوه ډېره مهمه اړتيا بللی شو. موضوع د خپلې څېړنيزې موخې، اهميت او مبرميت له مخې د يوې پراخې او هر اړخيزې څېړنې لپاره ډېرو معتبرو علمي سرچينو ته اړتيا لري، خو زموږ په ملي او رسمي ژبو (پښتو او دري) کې هغو ته لاس رسی لويه ستونزه وه، له ښه مرغه چې زموږ څېړونکي په انگريزي او اردو ژبې پوهېدنې دا ستونزه تر ډېره حل کړه او په دې بريالی شو چې د هغې له برکته يې د خپلې څېړنې لپاره ډېر نوي او په زړه پوري معلومات تر لاسه کړل چې د هغو پر مټ يې دا دی خپله څېړنه په ټاکلي وخت د دفاع تر درشله راورسوله.

زه د لارښــود اســتـاد په توگه تائید او تصــدیقوم چې څېړونکي د دې علمي پروژې د څېړنیزې چـارې د سر تـه رســولو لپـاره گـام پر گام زما پر لارښــوونو او سپارښتنو عمل کړی، کوم بدلونونه او سمونونه چې د هر ځل کتنې په مهال په نښه او سپارښت شوي، هغه یې په پام کې نیولي او تر لازم سمون او بدلون وروسته یې یو ځـل بیـا زمـا لـه نظره تیر کړي، زه یې پـه دې برخـه کې د زغم، حوصــلې او زیارگالنې ستاینه کوم.

د لارښــود اســتـاد پـه توگه ددې علمي- څېړنیزې پروژې د منځپانگې او بڼې ځینې ځانگړنې داسې بیانوم:

- څېړونکي د څېړنې د اکـاډمیکو اصــولو له مخې دا پراخه موضــوع په لویو، منځنیو او څنگزنو سرلیکونو باندې په داسې مناسبه توگه ویشلې چې د هرې برخې اړوندې موضوع په پېژندنې کې یې په شننې او لازمو توضیحاتو سره د هغې څېړنیز حق په مناسب ډول اداء کړی دی.

- د معـاصرو اکـاډمیکو څېړنیزو اصــولو سره ســم یې د نویو بـاوري کورنیو او بهرنیو سرچینو څخه په اســتفاده خپله څېړنه بشــپړه کړې، معلوماتي سرچینې یې په متن کې په شــمېرو سره په نښــه کړي، لومړی یې په لمن لیک او بیا په ټولیز ډول د کتاب په پای کې د مأخذ ښودنې له اکاډمیک اصل سره سم راوړي دي.

- څېړونکي په موضــوع پورې د اړوندو مســایلو د وړاندې کولو په چارو کې بریالی، استدلالونه او څرگندونې یې مدللې او منطقي تسلسل یې پوره رعایت کړی دی. پـه اثر کې نوې خبرې او نوي ټکي هم تر ســترگو کېږي. لـه دې املـه د څېړونکي نوښتگرې هڅې د ستاینې وړ دي.

- د موضــوعاتو په څېړنه او سپړنه کې یې زیات تشــریحي څېړندود کارولی، خو د اړتیا په وخت کې یې د موضــوعاتو د شــننې لپاره کره کتنیز (انتقادي) میتود هم کارولی دی.

د لیکنې سـبک یې روان او د عـام پوهاوي وړ دی، لفظي او معنوي کړکیچونه نه لري، لیک نخښې یې په مناسب ډول کارولې دي.

دې پورته یادونو او ځینو نورو ښـیګڼو او ځانګړتیاوو ته په پاملرنه زه د څېړنوال محمدنبي صـلاحي دغه علمي- څېړنیزه پروژه په علمي او مسـلکي لحاظ مثبته او بریالۍ ګڼم.که یې د لایحې له مخې د ترفیع نور شرایط پوره کړي وي، له څېړنوال علمي پوړ څخه د څېړنپوه علمي رتبې ته د لوړاوي وړ یې بولم. دوی ته د څښـتن تعالی له درباره لا بریالیتوبونه غواړم او د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز ته یې له اثر څخه د معنوي ګټې اخیسـتنې د عامیدو په موخه د چاپ او خپراوي وړاندیز کوم.

په درنښت

څېړنپوه دوکتور سیدمحی الدین هاشمي

د علومو اکاډمي- د دایرةالمعارف مرکز

د ۱۳۹۷ لمریز کال د کب د میاشتې یوولسمه

# تقریظ

د افغانستان د علومو اکادمي د ژبو او ادبیاتو مرکز محترم ریاست ته!

ستاسي د ۱۳۹۸/۵/۱ لمریز کال د (۳۵۹/۳۵۸) گڼه لیک له مخې، د ښاغلي څېړنوال محمدنبي صلاحي پر تحقیقي پروژې خپل نظر په لاندې ډول وړاندې کوم:

## د پروژې معرفي او جوړښت

د څېړنوال محمد نبي صلاحي پروژه چې د ((د ادبي څېړنې میتودولوژي)) تر سرلیک لاندې بشپړه شوې او د سرمحقق علمي رتبې حصول ته کاندید ده، شپږ څپرکي لري.

لومړی څپرکی یې مقدماتي مباحثو ته وقف دی چې معمولاً دا وړ بحثونه د دغسې پروژې په اکادمیکو تحقیقي سریزو کې راځي. ښاغلي مؤلف د خپل اثر پنځه نور څپرکي د څېړنې او د ادبي څېړنې د میتودونو او روشونو د بېلابېلو اړخونو معرفي ته وقف کړي دي او په پای کې یې نتیجه، وړاندیزونه او د خپلو مأخذونو فهرست هم راوړي دي.

## د پروژې ضرورت

د نن ورځې علمي تمایلات دا دي چې د علومو او پوهو په ټولو څانگو کې د هنرونو په شمول، هر ډول څېړنې د یو میتود په رڼا کې کیږي او د معاصر تحقیق ټول اصول او ضوابط په کې مراعاتیږي، دا تحقیقات که د اکادمیکو؛ تدریسي او تحقیقي مؤسساتو له خوا سرته رسي او یا د یو شخص له خوا، د معاصر تحقیق د اصولو او موازینو پر بنا د تحقیقاتو د عامیدلو لپاره پکار دي چې د څېړونکیو د رهنمایي او د معاصرې میتودولوژي د خپلولو لپاره، اکادمیک مؤسسات لارښودي آثار تهیه او چاپ کړي، څو د علومو او پوهو د بېلابېلو څانگو محققان د څېړنې

روشونه، میتودونه او ضوابط زده کړي؛ دغو اساساتو ته په پاملرنه خپلې څېړنې نوې او اکاډمیکې کړي. که موږ ځوانو محققانو ته لارښودي آثار وړاندې نه کړو؛ نو بیا د اکادمیک تحقیق هیله هم باید و نه لرو.

همدې ضرورت ته په پاملرنه د ژبو او ادبیاتو مرکز (د ادبي څېړنې میتودولوژي) په نامه پروژه طرح کړه او د تطبیق لپاره یې د ژبو او ادبیاتو مرکز ډېر تکړه غړی څېړنوال محمد نبي صلاحي وټاکه.

ښاغلی صلاحي د ژبو او ادبیاتو مرکز ډېر فعال او هڅاند غړی دی او د ډېرې تاندې ځوانۍ څخه یې د ادبپوهنې په ځینو څانګو کې تحقیقات کړي او پدې برخه کې د تجربې خاوند دی او د خپل همیشه‌ګي تلاش په نتیجه کې یې دا ضخیم اثر بشپړ کړ.

**د استفادې موارد**

د ادبي څېړنې د میتودولوژي په نامه آثار په عام ډول د ادب پوهنې د بېلابېلو څانګو محققانو ته د تحقیق لارې ورښیي؛ نو ځکه د ادبپوهنې د اصلي اوفرعي څانګو، لکه: ادبي تاریخ، ادبي نقد، ادبي تیوري، سبکپوهنې او نورو څانګو محققان ترې استفاده کولی شي، د ادبپوهنې په فرعي څانګو کې متن څېړنه، کتابپوهنه او مأخذ پوهنه، د تحقیق خپل اصول لري. د دې څانګو محققان کولای شي په ځینو برخو کې (د ادبي څېړنې میتودولوژي) غوندې کتابونو له لارښوونو استفاده وکړي، خو په اختصاصي برخو کې دا وړ کتابونه د متن څېړونکیو او کتابشناسانو پوښتنو ته ځواب نشي ویلای ځکه چې د متونو اوکتابونو (کتابشناسي) تحقیق ځانته خپل اصول اومعیارونه لري.

لنډه دا چې دا وړ لارښودي آثار د ادب پوهنې د ټولو اصلي او ځینو فرهنګي څانګو څېړونکیو ته کلیدي ارزښت لري، ځکه د دې ډول کتابونو له لارښوونو په استفاده محقق خپل تحقیقات له عنعنیي روشونو راباسي او پر اکاډمیکو اصولو برابر یې بشپړوي.

**مأخذ او د لیکنې روش**

ښاغلي صلاحي د خپل اثر په بشپړولو کې د پښتو، دري او انګریزي ژبو له مأخذونو استفاده کړې، لیکنه یې روانه او ښه ده، زیار یې ایستلی دی چې د لیکنې ژبه یې ددې وړ آثارو د لیکنې ژبې خصوصیات ولري.

د لیکوالۍ هر ژانر که ادبي او هنري وي، ژورنالیستیک یا علمي او تحقیقي وي، خپله ژبه لري، که د یو ژانر آثار د بل هغې پر ژبه ولیکل شي، خپل ارزښت له لاسه ورکوي.

**نتیجه**

په ټاکلی زماني مقطع کې د څېړنوال محمد نبي صلاحي په ډېر زیار اوتلاش دغه تهیه شوی اثر (د ادبي څېړنې میتودولوژي) د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز د سرمحقق علمي رتبې ته د ترفیع لـه څینو نورو آثارو سره وکتل شي، دا اثر ترې په هېڅ ډول کم نه دی.

ده په معینه دوره کې دا اثر بشپړ کړی دی، له دې چار سره مربوط یې خپل نور وجایب او وظایف هم سر ته رسولي دي، نو څکه یې زیار او هڅه د قدر وړ بولم او محترمو مربوطو مراجعو ته پیشنهاد کوم چې د دغه اثر د بشپړولو له امله د سرمحقق علمي رتبې ته د ده ترفیع ومني.

سرمحقق زلمی هېوادمل

# تقریظ

د ژبو او ادبیاتو د مرکز د ۱۳۹۸ ل کال د زمري د میاشتې د لومړۍ نېټې د ۳۵۸/۳۵۷ ګڼه لیک په ملتیا د ښاغلي څېړنوال محمد نبي صلاحي د «ادبي څېړنې میتودولوژي» نومی علمي- څېړنیز اثر چې له « ۱۱۵» مأخذونو څخه په استفاده د څېړنپوه علمي رتبې ته د ترفیع په منظور کښلی، ما ته د تقریظ لپاره راسپارل شوی دی.

څېړنوال محمد نبي صلاحي له هغو کسانو څخه دی چې د څېړندود یا میتود ډېر ټینګ پلوی دی، نو ځکه یې هڅه دا وه چې نورو ته هم په دغه برخه کې څه وړاندې کړي، نوموړي خپله دغه هڅه په عمل بدله کړه او «د ادبي څېړنې میتودولوژي» تر سرلیک لاندې په علمي- څېړنیزې پروژې باندې یې کار پیل کړ چې دا دی له ډېرو هڅو او هلو ځلو وروسته یې بشپړه کړه، مخکې له دې چې د دې اثر په اړه څه ووایم، غواړم په لنډو ټکو کې پر میتود خبرې وکړم:

(Method) له آره یوناني کلمه ده چې له دوو برخو څخه جوړه ده (Meta) او (hodos) چې اصلي معنا یې لاره او لوری دی یعنې د یوه مرام د ترسره کولو طریقه، یا هدف ته د رسېدو لاره یا د یوه فعالیت د تنظیمولو طریقه، که په لنډو ټکو کې ووایم په سیستماتیکه او منظمه توګه د یوه کار سرته رسول دي.

څېړونکو او پوهانو په بېلابېلو وختونو کې د علمي او څېړنیزو چارو د سمبالښت او سرته رسولو په منظور، په یوه نه یوه بڼه له میتود څخه کار اخیستی دی چې دا چاره د ځینو بدلونونو په منلو سره تر ننه هم روانه ده.

دا چې په اوسني وخت کې څومره او کوم- کوم میتودونه شته او کوم یې ډېر کارول کېږي، په دې موضوع باندې بحث نه کوم ځکه چې د اثر لیکوال وړباندې خبرې کړې دي، خو دومره باید ووایم چې هر لیکوال او څېړونکی د موضوع اهمیت او اړوندې رشتې ته په کتو له یوه نه یوه میتود څخه ګټه اخلي.

لکه څنګه چې یو معمار د یوې ودانۍ په جوړولو کې له ډېر دقت نه کار اخلي؛ ټول مواد او وسائل هر یو په خپل - خپل ځای کاروي، لیکوال او څېړونکي ته هم بویه چې د یوه اثر په کښلو کې د څېړنې وړ او اړین مواد له ټاکلي میتود سره سم تنظیم او پر خپل - خپل ځای یې وکاروي.

که چېرې موږ د یوه علمي اثر لپاره ټاکلی میتود و نه لرو، له اثر څخه به یو (معجون مرکب) جوړ او له لوستونکو څخه به لاره ورکه کړي. که چېرې په سمه لار حرکت وکړو او قدم پر قدم پر مخ لاړ شو، د خپل اثر لپاره یو ټاکلی میتود په پام کې ونیسو، د څېړنې وړ موضوع د څېړنې له اصولو سره برابره وڅېړو، سرلیک او مضمون (عنوان او معنون) یو له بل سره سم او برابر کړو، د اثر تشریحي او تحلیلي برخې میتودیکي وڅېړو، د نقد پر مهال بې‌پرېتوب هېر نه کړو، بېلابېلې موضوعګانې بې ترتیبه یوه له بلې سره ونه نښلوو، نو هم به مو یو غوره او د منلو وړ اثر کښلی وي او هم به مو د فرهنګ په بډاینه کې خپله کارنده ونډه ترسره کړې وي، همدارنګه به مو لوستونکو او مینه والو ته یو غوره او د استفادې وړ اثر وړاندې کړی وي.

په هر حال، راځم اصلي موضوع ته، د ښاغلي صلاحي د ادبي څېړنې میتودولوژي نومی اثر سربېره پر سریزې شپږ څپرکي، پایله وړاندیزونه او د مأخذونو فهرست لري.

لیکوال په سریزه کې چې د اثر د دروازې حیثیت لري له معمول سره سم له مقدماتي خبرو وروسته خپل اثر لنډ معرفي کړی، د خپلې څېړنې میتود یې ښوولی، د موضوع پر مبرمیت، هدف، انتخاب او نورو اړوندو مسئلو یې چې په سریزه کې یې راوړل اړین دي خبرې کړې دي.

په لومړي څپرکي کې یې د موضوع په شالید او پسمنظر بحث کړی دی چې په کې یې پر نورو خبرو سربېره ځیني هغه مهم آثار چې په دې اثر کې ترې زیاته

استفاده شوې او له موضوع سره يې مستقيمې اړيکې لرلې معرفي او د اړتيا پر مهال يې نقد کړي هم دي.

پـه دويم څپرکي کې چې سرليـک يې دی: « څېړنـه څه ته وايي؟» د څېړنې د ښـې پېژندنې په منظور، دغه موضـوع په اوو بېلابېلو عنوانونو کې په نسـبتاً مفصـله توګه څېړلې ده او د موضوع حق يې ادا کړی دی.

د دې اثر په درېيم څپرکي کې د ادبي څېړنې ميتودولوژی تر بحث لاندې نيول شوې او نوموړې موضوع په اتو بېلابېلو سرليکونو کې څېړل شوې ده.

په څلورم څپرکي کې په عام ډول پر دې بحث شـوی چې له ادبي څېړنې او د هغې له اصــولو څخه په عمل کې څنګه ګټه اخيسـتل کېدای شي. په دغه څپرکي کې د موضــوع او لاربنــود په ټاکنه، د څېړنې د نقشــې او خاکې په جوړولو او په څېړنيزو چارو کې په نورو اړوندو موضـوعګانو لازمې خبرې شوي او د هرې يوې ځانګړنې او اهميت په ګوته شوی دی.

د رسالې پنځم څپرکی د ادبي څېړنې د ليکنې د پړاوونو په اړه مواد په ځان کې رانغـاړي چې د اثر د ليکلو پـه شرايطو سربېره د بيـان ژبه، د افادې طرز، د معلوماتو تحليل او تفسـير او نورې اړوندې موضـوعګانې را چاپېروي چې ليکوال يې په اړه له خپل توان سره ســم د موجودو مأخذونو په رڼا کې هر اړخيزې خبرې او بحثونه کړي دي.

په شپږم او وروستي څپرکي کې د څېړنيز اثر د بشپړتابه تخنيکي اړخونه روښانه شــوي دي، لکه د مأخذونو ښــودنه، لمنليک، ببليوګرافي او په موضــوع پورې نور اړوند مسائل.

دغه اثر په پايلې، وړانديزونو او د مأخذونو په فهرست سره پای ته رسېدلی دی. بايد ووايم چې ما نوموړی اثر ټکي پر ټکي لوســتی دی، ښــاغلي ليکوال ته مې د ځينو هغو موضــوعګانو په اړه چې بايد له اثر څخه حذفې شي او همدارنګه د هغو ټکو پـه اړه چې د اثر په بېلابېلو برخو کې ور زيات شي او يا بدلون ومومي، لازمې

مشورې او وړاندیزونه مخې ته ایښي دي چې محترم صلاحي په ورین تندي منلي دي، د بېلګې پـه توګه په لومړي څپرکي کې د ادبیاتو له ســاحې پرته د نورو آثارو پېژنـدنه او د ده له خوا په تنده لهجه د آثارو یا مطالبو نقد کول یادولای شــو؛ زه د ده دغه نیک عمل ستایم او مننه ورڅخه کوم.

بـــــاید ووایم چې د ادبي تیوري او میتودولوژۍ پـه برخه کې لیکوال د پخې تجربې خاوند دی ځکه چې آن په شـپېتمو کلونو کې یې د نوې ادبي تیوري نومی اثر خپور شـو چې زما د ادعا ښـه شاهد دی، همدارنګه یې په ادبیاتو کې د سریزې لیکلو له دوده هم خبر کړي یو چې د ده د دې اثر لیکلو ته یې لار اواره کړې ده.
که په لنډو ټکو کې ووایم، په عام ډول په ادبي څېړنو او په خاص ډول د دې اثر په کښلو کې د ښاغلي صلاحي زیار د ډېرې ستاینې وړ دی.
- لیکوال د هغه د تېرو آثارو په څېر د دې اثر په کښــلو کې هم زیات زیار ایسـتلی چې د ده دغه زیار او مښـود د دې سبب شوی چې یو نسبتاً غوره او د استفادې وړ اثر ولیکي.

- لیکوال له خپل توان سره سم هغه څه چې د یوه اثر په څېړنه او لیکنه کې باید په پام کې ونیول شي، نه دي هیر کړي.

- پـه ټوله کې یې د لیکوالۍ او څېړنې اصــول تر ډېره بریده مراعات کړي دي، وایي چې: «بنده تر خپل وسه پړ دی».

- د څېړنې ژبه یې روانه او پېچلتیا په کې نه تر سترګو کېږي، لنډه دا چې د هرې سویې لوستونکي ترې ګټه اخیستلی شي.

پـه پـای کــې د دې اثـر پـه کښــلو کــې د هغـه د لیکـوال زیـار یـو ځـل بیـا سـتایم، کـه چېـرې نومـوړي لـه ټـاکلو لایحـو او مقرراتـو سره سـم د ترفیـع نـور اړونـد شرایــط بشــپړ کــړي وي، د څېړنــوالۍ لــه علمــي رتبــې څخــه یــې د څېړنپـوه علمـي رتبـې تـه د لوړېـدو وړانـدیز کـوم او ده تـه د ښـتن تعـالی (ج)

لـه دربـاره روغتيـا او د نـورو علمـي - فرهنگـي چـارو پـه تـرسره كولـو كـې يـې د لازياتو برياليتوبونو غوښتنه كوم.

په درنښت

څېړنپوه نصرالله ناصر

د بشري علومو د برخې مرستيال

# تقريظ

د ژبو او ادبياتو مرکز محترم رياست ته!

ستاســو د ۳۶۰/۳۵۹/ ۱۳۹۸/۵/۱گنه مکتوب په ځواب کې په ډېر درنښــت سره داسې ليکو.

دا يوه جوته خبره ده چې د څېړنې لارې او گودرې هماغســې چې اوس دي، په پيل کې همداسې نه وې. دا يادونه دا معنا لري چې د يوې لارې يا د يوه اسلوب منظمېدل وخت غواړي او تر ډېر کارکولو وروســته يوه داســې بڼه اختياروي چې هغـه د علومو پـه يوه برخـه کې د يوه منلي اومنظم چوکـاټ شــکـل اختيـاروي. څېړونکي په همدې چوکاټ کې را نغښــتې نورمونه په پام کې نيســـــي او خپلې څېړنې لا پسې غزوي او بشپړوي يې. دغه نورمونه د ميتودولوژي په نوم يادېږي. دا به ښه وي چې دلته د ميتود په ويي باندې لږ تم شو او په اړه يې يو څه ووايو، ځکه موږ همدغه ويی د بنې په نه بدلون سره په څېړنو کې کاروو او په خبرو کې يې هم استعمالوو، خو مخکې له دې نه چې د ميتود په باره کې يو څه ووايو، بده به نه وي کـه د څېړنې پـه مورد کې دوه درې ټکي ياد کړو. زما په خيال خو څېړنه د هغه څه لاس ته راوړل دي چې يو څوک يې په لټه کې وي او دې ته ســترگې غړوي چې تر گوتو يې کړي. دا کـار هغـه وخـت کېـدای شي چې ســړی د کړنگونو څخه را وگرځي او په سمه لار روان شي.

ميتود داســې يو ويی دی چې له گرامري پلوه په ځينو ژبوکې ښــځينه او په يو شمېر نورو کې نارينه لغت بلل شوی دی. موږ په دې ځای کې د دې سپيناوي سره څه کـار نـه لرو، ولې د دې نومونې پېژندل پر ځای عمل دی. په همدې علت بايد دا ووايو چې ميتود څه شی دی اوڅه ته وايي.

ميتود (Method ) په يوه منظم سيستم باندې جوړې شوې لارې ته وايي چې د علمي معلوماتو او يا هم د عملي پايو د لاسته راوړلو لپاره خدمت کوي. يا داسې

هم ویلی شــو چې میتود د پلان سره ســم وړاندې تګ دی. ([1]) زه تر دې زیات د میتود په اړه څه نه وایم او د دې علمي- څېړنیزې پروژې د اوډنې یادونه په لنډ ډول کوم.

د دې علمي- څېړنیزې پروژې لومړی څپرکی د موضــوع د شــالید په برخه کې دی. په دې څېړنه کې ځینې آثار په ډېر ښــه ډول معرفي شــوي او په ښــه کاڼي تلل شوي دي. لیکوال په دې څېړنه کې عناد نه دی کړی او هر کتاب یې داسې معرفي کړی دی چې سړی په کې نور څه نه زیاتولی شي او نه هم کمولی.

د اثر لیکوال دویم څپرکی پــه ((څېړنه څه ته وایي؟)) سرلیک باندې پیل کړی دی. څېړنــه یې را ښــودلې او یــادونــه یې کړې ده چې څېړنــه لرغونی کــار دی. د لیکوال دا یادونه موږ د دې سره اشنا کوي چې څېړنه خورا اوږد تاریخ لري. طبیعي خبره ده چې انسجام به یې د اوسني منظم شوي چوکاټ غوندې نه و، ځکه هر څه د وخــت پــه تېرېــدو او کــار پــه وجه د ښــه والي پوړیو ته ور پورته کېږي. اســتاد صــلاحي په ډېره روانه ژبه د څېړنې پیل او د هغې نه تمامېدونکې لړۍ ښودلې او په دې اړه یې د پوهــانو نظرونــه هم پــه خپلــه علمي- څېړنیزه پروژه کې خونــدي کړي دي. دا عمــل د څېړنې د اهمیت پېژندلو په برخه کې یوه پرځای کړنه ده. د همدې څپرکي په ترڅ کې دا هم ویل شوي دي چې یو محقق باید د څېړنې په وخت کې خپله بېطرفي وســاتي. دا یادونه ډېره ارزښــتمنه ده، ځکه داســې څېړونکي شته چې په څېړنه کې خپل تعصــب جوتوي او د دې ناروا عمل لپاره څېړنه یوه وسیله او ښه مــدرک بولي. پــه همدې څپرکي کې په دې هم ټینګار شــوی دی چې څېړنه باید موخه ولري او سیستماتیکه وي. د همدې څپرکي په اوږدو کې د څېړنې په ارزښت او اهمیت باندې ګټورې خبرې شــوې دي او یادونه شــوې ده چې په څېړنه کې د څېړونکي نظر اړین دی. زه د اســتــاد د دې یــادونې ملګری یم، ځکــه کــه یو څېړونکی په څېړنه کې په دې باندې وخت ضــایع کوي، باید چې نظر یې په څېړنه

[1]. په آلماني ژبه کې د پردیو لغتونو قاموس، من هایم، ۱۹۸۲م کال، ۴۸۹مخ.

کې يو لوری ولري. په همدې څېړکي کې د نورو ګټورو خبرو او څرګندونو په څنګ کې دا هم ويل شوي دي چې که غواړو په يوه شي باندې پوه شو، بايد چې د څېړنې خوا ونيسو. دا ټکی خورا ارزښتمن دی، ځکه چې د ټولنيز پرمختګ بنسټ پر څېړنه ولاړ دی. که څېړنه نه وي، تش لاسونه به هيڅکله هم ډک نه شي. په همدې څېړکي کې د څېړنې ډولونه په ګوته شوي او هر ډول تشريح شوی دی. دا يوه ډېره ښه کړنه ده، ځکه چې هر ډول يې بېله او ځانته ساحه لري. دا تفکيک، د هر ډول څېړنې په پېژندنه کې په زړه پورې مرسته کولی شي. په دې څېړکي کې د تحقيق ډولونه را ښيي چې استاد صلاحي د موضوع تل ته لاسونه ور اوږده کړي دي او تش ځان يې نه دی تېر کړی، بلکې موضوع يې ډېره ښه شاربلې ده او تر مېرې (پولې) لاندې يې وړی نه دی پرې ايښی. دا څېرکی زما په اند د يوې ځانګړې رسالې تومنه لري.

دريېم څېرکی د ادبي څېړنې ميتودولوژي تر سرليک لاندې پيل شوی دی. په ادبي ميتود باندې خبرې شوې دي. د ميتود اصل ښودل شوی او د ميتودولوژي د نومونې سره په روانه ژبه تشريح شوی دی. د اثر د ليکوال ژبه پېچلتيا نه لري او د هر ډول ابهام څخه پاکه ده، ځکه سړی د يوې موضوع په محتوا او هدف باندې په اسانۍ سره پوهېدای شي. د همدې څېرکي په ترڅ کې دا هم ويل شوي دي چې په څېړنه کې بايد د ليکوال خپل نظر وي. دا يو ښه فکټور دی، ځکه چې د مطالعې او څېړنې غوښتنه هم دا ده چې د ليکوال نظر په خپله لمن کې را ونغاړي. که داسې نه وي د له لاسه وتلي وخت ازار به يې په غاړه وي. په همدې څېرکي کې د ادبي څېړنې اصول او لارې نه دي هېرې شوي او په ډېره روانه او سليسه ژبه بيان شوي دي چې لوستل يې لوستونکي ته ډېر معلومات ورکوي. په همدغه څېرکي کې په څېړنه کې د ميتود په پيروي باندې ټينګار شوی دی او دا يادونه هم شوې ده چې له ميتود نه پرته هره څېړنه چې وي، علمي باور نه لري. زه دا يادونه ګټمنه بولم، ځکه چې ياد اصل ته پاملرنه زموږ څېړنې او ليکنې بې وتې کوي. د

همدې لړۍ په لړ کې د ادبي مطالعاتو او ادبي څېړنو په ډولونو باندې بحث شــوی دی او دغه برخه هم په ډېره ښه توګه څېړل شوې ده. د دې لپاره چې سړی ډېر څه ترې زده کړي، بـایـد چې کتاب ته مراجعه وکړي، ځکه په څو ټکو کې يادونه يې ټولـه منځپانګه نه شي را ښــودلای. په دې څپرکي کې په ادبي تيوري باندې ښــه بحث شــوی دی چې لوســتل يې لوســتونکي ته ډېر مواد او معلومات ورکوي. په همدې څپرکي کې د ادبي تيوري د مطالعې موضوع او ساحه په نخښنه شوې ده او مشـــرحه ليکنه ور باندې شوې ده. کله چې يو څوک دا برخه لولي، د ادبي تيوري د فعـاليت چاپېريال او اهميت ښـــه ورته څرګندېدای شي او مطلوب هدف په کې موندلای شي.

همـدارنګـه پـه همـدې څپرکي کې د ادبي تيوري او ادبي کره کتنې توپير پـه مـدلـل ډول سره جوت شـــوي دي او که څوک د دې سره علاقه لري چې دوی په توپير لا ښه وپوهېږي، د اثر لوستل په هيڅ وجه بې ګټې نه دي. په دې څپرکي کې پـه ادبي کره کتنـه باندې په زړه پورې خبرې شـــوي او که يو څوک يې لږ په غور سره ولولي، د ادبي کره کتنې په اړه ډېر څه تر لاســه کولی شي. په دې پســې څېرمه پـه ادبي تـاريخ، د ادبي تـاريخ پېژنـدنـه، د ادبي تـاريخ ميتودولوژي، دادبي تاريخ تيوري او نورو اړوندو موضـوعاتو باندې تفصيلي خبرې او ليکنه شوې، لوستل يې ســړي تـه ډېرې اړينې لارې ګودرې ورښـــيي او کـه څوک په څېړنه او ليکنه کې پـاملرنـه ور ته وکړي، د يوه ښـــه ليکوال او څېړونکي نوم خپلولای شي. پورتنيو او نورو ټکو تـه په کتو سره دا په ډاګه ويلای شـــم چې د اثر ليکوال په هره برخه کې بې کچې زحمت ايســـتلی او پله په پله يې هره موضـــوع په ډېره عامفهمه ژبه ښـــه سپړلې او څېړلې ده.

څلورم څپرکی ((د ادبي څېړنې عملي لارې چـارې)) تر سرليـک لانـدې پيـل شـــوی او پـه دې اډانـه کې يې، پـه اتو څنګزنو سرليکونو باندې علمي بحث کړی دی. په دې څپرکي کې د موضـوع ټاکنه، د لارښـود اسـتاد ټاکنه، د څېړنې نقشه او

خاکه جوړول، د موادو د سرچينو پلټنه او پېژندنه، د موادو راټولونه، د موادو مطالعه او يادښت اخيستل، د يادښتونو ډلبندي، د څېړنې لپاره د ميتود ټاکنه باندې په زړه پورې ليکنه شوې او د پورته يادو شوو موضوعاتو پېژندنه او تحليل په ډېر مناسب ډول سره تر سره شوی دی. د دې لپاره چې يو څوک په دې اړه پوره معلومات خپل کړي، ښه لاره دا ده چې دا څپرکی په اثر کې دننه وگوري او ويې لولي، تر څو په هره برخه کې د پوهانو له نظرونو او څرگندونو څخه ډېر څه زده کړي او په خپل کار او څېړنه کې گټه ترې واخلي.

پنځم څپرکی د ادبي ليکنې پړاوونو ته ځانگړی شوی دی. د اثر ليکوال په دې څپرکي کې تر لسو پورې په بېلابېلو سرليکونو باندې څېړنه کړې او د هر سرليک اهميت او اړتيا يې په ډېره ښه توگه په گوته کړې ده. زما په نظر خو د ليکوال له خوا ياد شوي سرليکونه، په واقعيت کې اړين او پر ځای پرنسيپونه دي او که کوم ليکوال، څېړونکی او يا محصل يې له پامه و نه غورځوي، ښې پايلې به خپلې کړي او په څه شي پسې چې گرځي، هغه به تر گوتو کړي. په دې څپرکي کې په دې لاندې جزياتو باندې خواري او کار شوی دی:

د اثر د ليکلو شرايط او وختونه، د څېړنيز اثر د بيان ژبه او د افادې طرز يې، د معلوماتو تحليل او تفسير، د څېړنيز اثر جوړښت او چوکاټ، سريزه... او نورو مهمو اړخونو باندې ډېره ښه تفصيلي ليکنه شوې او په هره برخه کې ډېر مهم، د پام وړ اصول او معلومات را ټول شوي دي. که سړی د هر فصل څخه يو څو مهم ټکي هم راواخلي، نو يوه رساله يا وړوکی جيبي کتاب ترې جوړېږي چې د تقريظ سره به جوت توپير ولري، ځکه نو بيا هم دا يادونه کوم چې د کتاب د لوستلو اړتيا ډېره ده.

د اثر ليکوال په شپږم څپرکي کې((د څېړنيز اثر د بشپړتابه تخنيکي اړخونه)) په سرليک باندې تم شوی او د مأخذونو د ښودنې لارې چارې او لمنليکونه يې په ډېر مشرح ډول په روانه ژبه ښودلي دي. په دې برخه کې يې هم د بهرنيو او کورنيو پوهانو نظرونه له پامه نه دي غورځولي. ده په دې څپرکي کې را غونډ کړي مسايل ډېر

ښــه تعریف کړي او څېړلي دي او دا ترې څرګنـدېږي چې لیکوال پـه مجموع کې د څېړنې د اصــولو سره پوره بلـدتیـا لري، ځکـه نو پـه دې ټینګار کوي چې په لیکنه او څېړنـه کې بـاید اصــولو ته ژوره پاملرنه وشي. باید یادونه وکړم چې په همدې څېرکي کې د تعلیقـاتو اهمیت هم لـه یـاده نـه دی غورځول شــوی او د اثر لیکوال د هغوی ارزښـــت نه دی هېر کړی. لمنلیکونه او د هغوی ډولونه یې په نخښــه کړي او هر ډول یې په فصــیحه ژبه څرګند کړي دي. کله چې یو څوک د لمنلیکونو برخه وګوري، نو په اســانۍ سره په هر ډول باندې پوهېدای شي او د دې سره اشــنایي پیداکوي چې هر لمنلیـک خپل ځای ځایګی لري. تر دې وروســـته د منابعو او سرچینو په لیکلړ باندې هم ګټورې خبرې شـوې دي. ورپسـې نومښـود (Index) په ډېر ښـه ډول سره واضـح شــوی دی او کتـل یې ســړي ته د دې توان وربښــي چې د Index تر نامه لاندې د ځایونو، اشخاصو... او نور نومونه په مرتب ډول په یوه اثر کې ځای پر ځای کړي.

استـاد صــلاحي په دې علمي- څېړنیزه پروژه کې څه د پاســه ســلوکورنیو او بهرنیو آثـارو څخه ګټه اخیســـتې ده. زه د دې اثر په اړه خپل نظر په لاندې ټکو کې داســې جوتوم:

- د اثر محتوا او منځپانګه علمي جوله لري.
- ژبه یې روانه او سلیسه ده.
- لیک نخښې یې د امکان تر بریده پورې په پام کې نیولې او کارولې دي.
- دا اثر د باوري سرچینې په توګه د باور وړ دی.
- محصلان، استادان او څېړونکي پوره ګټه ترې اخیستلای شي.
- د علومو اکاډمي د مشرتابه نه مې هیله دا ده چې ژر تر ژره یې د چاپ تابیا وکړي.

زه اســـتـاد صـــلاحي د څېړنپوه د علمي رتبې وړ بولم او د الله (ج) لـه دربـاره د نورو بریاوو هیله ورته کوم. په قلم او متو یې برکت شه.

څېړنپوه مولاجان تڼیوال

د ژبپوهنې د څانګې مشر

# تقریظ

د ژبو او ادبیاتو مرکز قدرمن ریاست ته!

ستاسې د ۱۳۹۸/۴/۲۵نېټې د ۳۲۷ پر ۳۲۸ گڼه لیک په ځواب کې چې ((د ادبي څېړنې میتودولوژي ) علمي- څېړنیزې پروژې تر سرلیک لاندې اثر په برخه کې و، په اړه یې خپل نظر داسې څرگندوم:

څېړنه په اصل کې یوه منظمه او سیستماتیکه هڅه ده چې په مختلفو بڼو او شکلونو سره سر ته رسېږي. پوهانو د بڼې، کامیابۍ او غوره څېړنې د سر ته رسولو لپاره د میتود شته والی لازمي بللی دی. د میتود او میتودولوژي اصول او پرنسیپونه د معاصرې څېړنې په برخه کې ډېر ضرور دي. همدا اصول او پرنسیپونه، یو څېړنیز کار له سرسري او سطحي حالت څخه لرې کوي او د معیاري څېړنې پر خوا یې بیایي.

زما تر مطالعې لاندې ((د ادبي څېړنې میتودولوژي)) علمي- تحقیقي پروژه هم د څېړونکي له خوا د همدې لوړ مقصد په خاطر لیکل شوې ده او محقق په دې برخه کې ډېرې هلې ځلې کړې دي. دغه کتاب د موضوع عنوان، شالید او د موضوع اهمیت او ارزښت له مخې خورا مهم اثر دی. نوموړی اثر په سریزې سربېره چې د مقدمه لیکنې د تیوري له اصولو سره سمه او پر ځای لیکل شوې ده، شپږ څپرکي، پایله، وړاندیزونه او د سرچینو لیکلړ لري چې موږ به دلته د هر څپرکي په اړه خپل نظرستاسو په وړاندې څرگندکړو.

لومړی څپرکی د موضوع شالید ته ځانگړی شوی او په هغه کې پر کوم اثر باندې چې علمي تبصره شوې ده، په بشپړناپییلتوب سره د هغه اثر د مثبتو اوکمزورو اړخونو یادونه هم شوې ده. ور سره په دې برخه کې د دغې علمي- څېړنیزې پروژې د لیکلو علمي اړتیا هم بیان شوې ده. څېړونکي په دې برخه کې د شوي کار د تاریخچې له بیانولو نه وروسته نوموړي آثار په لنډیز او ډېره علمي شیوه باندې معرفي کړي چې د اړوندې موضوع په اړه لیکل شوي او یا له دغې

موضوع سره نږدې تړاو لري. دغه آثار نه یواځې را پېژني، بلکې د اړتیا پر مهال یې نقد کړي هم دي.

په دویم څپرکي کې د څېړنې پر موضوع منظمې او سیستماتیکې خبرې شوې دي او تر بېلابېلو څنګزنو سرلیکونو لاندې د نوموړې موضوع پر اصولو او لارو چارو، ارزښتونو او تاریخي اهمیت باندې مفصله څېړنه شوې ده.

درېیم څپرکی((د ادبي څېړنې میتودولوژي)) ته وقف شوی دی او په هغې کې د ادبي میتود پېژندنې او د ادبي څېړنې میتودولوژي د اصولو او لارو چارو او د متنپوهنې په ګډون یې د بېلابېلو علومو په اړه دغه موضوعات تر ځانګړو سرلیکونو لاندې په خورا سلیسه ژبه په مفصله توګه تشریح کړي او د هر سرلیک په پای کې یې، له خپلې څېړنې نه مثبته نتیجه تر لاسه کړې او راوړې ده.

څلورم څپرکی د ادبي څېړنې د عملي لارو چارو په برخه کې دی. څېړونکی په دې برخه کې د ادبي څېړنې پر اساسي موضوعاتو باندې غږېدلی، د موضوع ټاکنې په برخه کې یې د څېړونکي خپل انتخاب او د وخت محسوسه اړتیا غوره بللې، د څېړنیزې موضوع د ښې څېړنې په برخه کې یې د لارښود استاد په هراړخیزې همکارۍ، د څېړنې پر نقشې او خاکې جوړونې، د موادو پر راټولونې او د هغو پر ژورې مطالعې او شننې باندې ژورې خبرې کړې دي.

پنځم څپرکی د ادبي څېړنې پړاوونو په اړه دی. په دې څپرکي کې څېړونکي په خورا محققانه ډول، د موضوعاتو د مختلفو برخو د انسجام په برخه کې ډېرو ګټورو لارښودي ټکیو ته ځای ورکړی دی.

محقق په شپږم څپرکي کې د یادې موضوع تخنیکي اړخونه ډېر ښه را سپړلي او څېړلي دي. هغه څه یې روښانه کړي چې د ځوانو څېړونکو لپاره د څېړنې په برخه کې حیاتي اهمیت لري. دا څپرکی هم د نورو څپرکیو په شان په مختلفو څنګزنو سرلیکونو باندې وېشل شوی چې په هره برخه کې د موضوع له څېړنې وروسته، د لیکوال خپل نظر را څرګند شوی. له دې معلومېږي چې په یوه معیاري

څېړنه کې، دموضوع د تحلیل او ارزونې په اړه د محقق خپل نظر د ډېر ارزښت وړ دی. پـه هره برخـه کې د لازمو څرګنـدونو په ترڅ کې د موضــوع اړوند هر څه په قوي دلیل او منطق سره بیان شوي دي او په څېړنه کې یې د حق او حقیقت پېژندلو په برخه کې ګڼ شـمېر لارې چارې په ګوته کړې دي. د دغو لارو چارو په پام کې نیولو سره، ځیرک څېړونکی په ډېرې اسانۍ سره په دې توانېږي چې له باطل دریځ نـه خپلـه لاره بېلـه او خپـل ځـان د حقیقت تل ته ورســوي. دا هغه څه دي چې د نوموړي محقق د دغې څېړنې بنسټیز هدف یې هم بللی شو.

د څېړکیو پـه پـای کې د اثر نتیجـه، وړانـدیزونـه او سرچینې هم د اثر د علمي انســجام پر لارو چارو برابر راوړل شــوې دي. د اثر نتیجه مثبته ده، وړاندیزونه یې عملي بڼه لري او سرچینې یې هم معتبرې دي.

د یـادونې وړ بولو چې د دې څېړنیز اثر ټول څپرکي په ډېره دقیقه او ژوره توګه څېړل شــوي. لیکوال د موضــوعاتو د ارزونې او ســپړنې په ترڅ کې احســاســاتي قضـاوت نه دی کړی، په بشپړې حوصلې سره یې د واقعیتونو د میندلو لارې چارې ښودلې او هغه یې په معقوله او سـنجیده ژبه داسې وړاندې کړې چې د لوستونکي د لید افق پراخوي او هغوی نوښت او ابتکار ته هڅوي.

پر پورتنیو یادونو سربېره دا اثر نورې ځانګړنې هم لري:

- د لیکنې ژبه یې معیاري ده.
- مأخذ ښودنه یې په علمي او اکاډمیکو اصولو برابره ده.
- ګڼ موضوعات یې نوي او ابتکاري دي.
- د څېړنې ټاکلي موازین او پرنسیپونه یې په پام کې نیولي دي.
- څېړونکي د ټولې څېړنې پـه بهیر کې له فروعاتو ډډه کړې او په هره برخه کې یې د اصلي موضوعاتو په څېړلو باندې لاس پورې کړی دی.

په پای کې زه څېړنوال محمدنبي صــلاحي ته د دې خوراگټور او مغتنم اثر د بشــپړولو د زړه له کومې مبارکي وایم او د څېړنپوه علمي رتبې ته یې د ترفیع وړ او مستحق بولم.

په راتلونکي کې ورته د دغســې علمي- څېړنیزو آثارو په لیکلو کې د لا زیاتو بریـالیتوبونو هیلـه کوم. د دې لپـاره چې د افغـانســتـان ځوان نســل د ادبي څېړنې میتودولوژي له اصــولو او پرنســیپونو سره په هراړخیزه توگه بلد شي، د افغانســتان د علومو اکاډمي محترم مقام ته یې د چاپ سپارښتنه هم کوم.

په درناوي

څېړنپوه عبدالشکور قیومي

د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز علمي غړی

# سریزه

د ادبي څېړنې میتودولوژي (Literary Research Methodology) د څېړندود (میتود) پـه رڼـا کې د ادبي آثـارو علمي څېړنه کوي، یعنې په نوي ډول یې تحلیل، تعبیر او تفسـیروي. د ادبي څېړنې میتودولوژي موږ ته راښـیي چې تر لاس لاندې موضوع کې د اضافي مقدمو او نا اړوندو موضوعاتو راوړلو ته اړتیا نه شته. باید بې ضرورته د کتاب حجم زیات نه شي. تکراري او نا اړوند موضوعات زموږ له علمي پرمختګ، ترقۍ او پراختیا سره نه یواځې مرسـته نه کوي، بلکې له علمي تحقیق نه مو لرې کوي. هغه څېړنې له تکراري موضـوعاتو، اقتباسـونو او کاپي کولو پرته بل څـه نـه دي. دغه ډول کرغېړن میتود لوسـتونکی د حقیقت له اصـلي متن نه لرې کوي. په داسـې حال کې چې باید هر نوی تحقیق د لوسـتونکو لپاره نوې خبرې ولري. زموږ په څېړنو کې د ځینو کسانو له خوا شخصـــي تمایلات زیات وو، دغه ډول لیکنې زموږ څېړنیز بهیر له علمي تګلارې بې لارې ته کاږي.

پـه دې برخـه کې د پخوانیو څېړونکو په لاس کې ډېر لږ مواد وو. زیاتره آثار د څېړنې پر ځینو اړخونو بـانـدې لیکـل شـوي دي. ځینې یې لـه بهرنیو منـابعو پـه ځانګړې توګه له انګلیسي ـ او اردو ژبو نه ترجمه شـوي دي، ډېره تیوریکه بڼه لري او د ادبي څېړنې د ټولو پړاوونو د لارښوونې لپاره بسنه نه کوي. له دې امله په پښتو ژبه کې (د ادبي څېړنې میتودولوژي) اکاډمیکه څېړنه ډېره مهمه، اړینه او محسوسه وه، ځکـه د پښـتو ژبې او ادبیاتو انسـتیتوت دا موضـوع د یوې علمي- څېړنیزې پروژې پـه توګـه ما ته را وسـپارله چې اکاډمیکه څېړنه ور باندې وکړم. ما هم دغه کار ته غاړه کېښـوده او د دې علمي کار د موضوع اهمیت دا دی چې د دغه اثر په لیکلو سره بـه پـه دې برخـه کې یو ځـانګړی علمي اثر رامنځته شي او هغه ټکي به ښه روښانه شي چې د معیاري او ستندرد تحقیق لپاره ضروري دي. ان‌شاءالله تعالی زما تر لاس لاندې بشـپړ شـوی اثر به په دې برخه کې اسـاسي پوښـتنو ته ور او

مناسب ځواب وویلی شي او هغه تشه چې په روانه څېړنیزه پروسه کې شته، هغه به د دې اثر پـه لیکلو او بشـــپړولو سره ډکـه شي. مـا پـه دې برخه کې د خپل توان او اســـتعـداد پـه انـدازه کـار کړی دی او په زیات تکلیف سره مې دغه اثر برابر کړی دی.کېـدای شي ځینې تېروتنې هم ولري، خو دا باید په زغرده ووایم چې ما دا کار یواځې د علمي تر فیع د تر لاســـه کولو په منظور نه دی کړی، بلکې زما مقصـــد د علمی او ادبي جوهر د ښــې ســاتنې، پالنې او د علمي تحقیق د روان بهیر په لویه لاره کې د ډیوې رڼـا ده، ځکـه مې نوموړې موضـــوع تـه اوږه ورکړه چې زموږ په ادبي څېړنو کې له نور پرمختګ سره مرســته وکړي او درنو لوسـتونکو ته نوي مواد وړاندې شي. د موضــوع د جدي اهمیت په پام کې ســـاتلو سره مې د ادبي څېړنې میتودولوژي موضوع باندې څېړنه پیل کړه.

د دې اثر د لومړي څپرکي (شــالید) له لوســتلو به درنو لوســتونکو ته ډېره ښــه روښانه شي چې په پښتوکې په دې برخه کې ډېر لږکار شوی دی. په دې اړه زیاتره آثار په بهرنیو ژبو باندې لیکل شــوي دي. د څېړنو ټول څېړندودونه بهر کشــف او رامنځته شـــوي دي، د افغاني پوهانو له خوا یواځې هماغه میتودونه معرفي شـــوي دي. لـه دې امله ځوان څېړونکي په دې اړه له ګڼو ســـتونزو سره مخامخ دي.کومو پوهـانو او څېړونکو چې لـه مـا مخکې پـه دې برخه کې کوم کار کړی دی، د هغو څېړنې او لیکنې د ســـتایلو وړ دي، مګر زما په اند نیمګړې دي او بشـــپړې نه دي. همدغه ټکي ته په کتو سره په دې علمي- څېړنیزه پروژه کې د موضـــوع مبرمیت دا دی چې ما (د ادبي څېړنې میتودولوژي) موضـــوع د خپل علمي مکلفیت د ترسره کولو تر څنـګ د ځوانو څېړونکو د څېړنیزو مهـارتونو د لوړولو او د ادبي څېړنو د مینـه والو د مســـلکي روزنې لپـاره غوره کړه. دا څېړنه د پخوانیو څېړنو په پرتله ګڼې توپیرونـه او ارزښـــتونـه لري: لومړی توپیر یې دا دی چې په ځانګړې توګه د ادبي څېړنې میتودولوژي په اړه لومړنی خپلواک او مستقل اثر دی او د میتودیک تحقیق نږدې بشـپړ میکانیزم په کې تشـــــریح شـوی دی. دویم توپیر یې دا دی چې ما د

دغې موضـوع په اړه ګڼ شـمېر داسې ټکي ځای پر ځای کړي دي چې هغه نوي، تازه او اپډیټ معلومات دي چې په دې وروستیو وختونو کې د څېړونکو تر منځ د علمي بحثونو پایله ده. دریېم ټکی دا دی چې په علمي څېړنو کې ډېر ښــه اثر هغه دی چې څېړونکي په کې د موضــوع د ســپړنې حق په ښــه توګه ادا کړی وي، د تکنیکي اړخونو لـه پلوه یې معیـارونه پوره کړي وي او محقق په خپله څېړنه کې د لوستونکي قناعت حاصل کړای شي. اثر دغه ځانګړنه هم لري.

که څه هم په دغې موضوع باندې په سیمه اونړۍکې ګڼ آثار لیکل شوي دي، مګر په افغانستان کې په دې مهمه موضوع باندې داسې آثار لکه څنګه چې لازمه ده، د ځوانو څېړونکو علمي- مسلکي تنده پرې ماته شي، لا تر اوسه پورې ډېرکم دي. دلته په هېواد کې دننه ځینې تدریسي کتابونه او خال- خال، څېړنیزې او علمي مقالې وې، خو په ځانګړې توګه کوم خپلواک اثر نه و لیکل شوی. تل مې دا هڅه وه چې د علمي ترفیع لپاره د وظیفوي مکلفیت له مخې په یوه داسې علمي اثرکار وکړم چې په کارکولو باندې وارزي. هم د مرکز له لرلیدي(دورنمایی) پلانونو سره برابر وي او هم د راتلونکو څېړنو لپاره څه نا څه مواد برابر شي چې له نېکه مرغه ما ته همدغسې یوه موضوع د څېړنې لپاره راوسپارل شوه.

د دې علمي- څېړنیز اثر د بشــپړولو لپاره له کتابتوني څېړنې څخه کار اخیســتل شوی دی. د ادبي څېړنې میتودولوژي د څېړنې لپاره تشریحي- تحلیلي میتود غوره شــوی او کلـه نا کله له کره کتنیز میتود څخه هم کار اخیســتل شــوی دی چې د تحقیق د لارښوونې او څارنې دنده پر غاړه لري. پــه دې ډول په دې اغېزمنه څېړنه کې په خپل ذات کې د علمي میتود(Scientific method) ارزښـتونه او اصلونه په پـام کې نیول شــوي دي. پـه دې اړه مې ډېر کوښــښ دا و چې د ادبي څېړنې میتودولوژي موضـوع د مسـتندو او باوري سرچینو او منابعو په رڼا کې په هراړخیزه توګه وڅېړل شي.

هغه پوهان چې پښتو ژبې ته کارکول مهم گڼي باید په دې پوه شي چې زموږ تحقیقي کارونه او د هغوی علمي پایلې د میتودپوهنې له لارې لا غني او بهترې کېدای شي. د دې لپاره چې په راتلونکي کې د خپلو ادبي او علمي څېړنو کیفیت لوړ کړو، معیاري او ستندرد شي او له نړیوالو معیارونو، موازینو او ارزښتونو سره برابرې وي، باید په کلکه سره په خپلو علمي کارونو کې د ټاکل شوو میتودونو پیروي وکړو. د میتود له غوراوي سره د څېړنې چوکاټ او سیستم بدلېږي، په څېړنه کې د گډوډۍ او انارشي مخه نیول کېږي، څېړنه له بې خونده حالت، عامیانه، دودیزې او اماتور شکل نه راوځي، هر څه د څېړنیز قانون تابع کېږي او په دې ډول، څېړنه منظمه او سیستماتیکه بڼه اختیاروي. زموږ په راتلونکو علمي څېړنو کې به هغه آثار د کامیابۍ او د ژوندي پاتې کېدو ډېر چانس ولري چې د څېړنې په وړ او مناسبو لارو چارو او میتودونو باندې عیار شوي وي.

ما د دې اثر د ټاکلو موضوعاتو په څېړنې او بشپړولو کې په ټولیزه توگه له (۱۱۵) پښتو، دري، اردو، عربي او انگلیسي (کورنیو او بهرنیو) آثارو څخه گټه اخیستې ده.

غواړم د دغه اثر د بشپړتابه د څرنگوالي په اړه یو څو ټکي بیان کړم چې دا اثر څنگه ولیکل شو؟ د دې لپاره چې زما د علمي- تحقیقي پروژې د ټولو څپرکیو موضوعات ښه روښانه شي، له معمول سره سم په هر څپرکي کې څېړل شوي موضوعات په لاندې ډول در پېژنو:

دا علمي- تحقیقي پروژه یوه سریزه، شپږ څپرکي، پایله، وړاندیزونه او مأخذونه لري. د اثر ټولې برخې یوه له بلې سره داسې اوبدل شوې دي چې ټولې برخې په خپل منځ کې ښې منظمې منطقي اړیکې او ارگانیک پیوندونه لري او په هغو کې د ادبي څېړنې میتودولوژي تقریباً بشپړ میکانیزم څېړل شوی دی.

د اثر لومړی څپرکی د موضوع شالید ته ځانگړی شوی دی. په دغه څپرکي کې د یادې موضوع پر مخینه باندې علمي بحث شوی دی. پر څېړنیزو آثارو

باندې علمي تبصــــره شـوې ده او په ناپيیلي ډول ارزول شوي دي. د ادبي څېړنې میتودولوژي اثر د رامنځته کولو، لیکلو او بشپړولو حیاتي ارزښت بیان شوی دی.

پـه دويم څپرکي کې، د څېړنې عمومي مفهوم د اووه (۷) څنګزنو سرلیکونو په ترڅ کې بیان شــوی دی. په ډېرو روښـــانه ټکو دڅېړنې پېژندنه، د څېړنې موخه او هدف، د څېړنې اهمیت او ارزښت، د څېړنې ډولونه، له علومو سره د څېړنې اړیکې او د څېړنې او څېړونکي ځانګړنې تشــــریح شوې دي. د دې ټکي یادونه شوې ده چې پـه اکـاډمیکو او علمي مرکزونو کې کلـه چې د څېړنې نوم اخیســـتل کېږي، منظور علمي څېړنه ده. دغه راز څېړنه یو علمي فعالیت دی او دا شـان څېړنه باید د تیوري پـه رڼا کې د مشـــخص میتود پر بنســـټ تر سره شي. په علمي څېړنه کې د څېړونکي علمي صـــداقـت او علمي بې طرفي ښــکـاره وي. د تحقیق بهیر یوه دومداره پروسـه ښـودل شـوې ده او په هغې کې مطلق حکمونه او وروسـتی ټکی نشـــته. په دې معنا چې څېړنیزکار هیڅ وخت او هیڅ چېرې قطعي، ابدي او حتمي نه شو بللی. په څېړنه کې هر علمي فعالیت د نسبي بشپړتیا د اصل تابع دی.

د کتاب دریم څپرکی د ادبي څېړنې میتودولوژي ته ځانګړی شـــوی دی او د دې علمي- تحقیقي پروژې یو ډېر مهم او اساسي څپرکی دی. په دغه څپرکي کې د ادبي میتود پېژندنه، د ادبي څېړنې اصول او لارې، د ادبي مطالعاتو او ادبي څېړنو ډولونه، د ادبپوهنې اساسي څانګې (ادبي تیوري، ادبي کره کتنه، ادبي تاریخ) ادبي پرتلنه او متنپوهنه توضـیح شـوي دي. د ادبي میتود نسـبي مشـخص تعریف، منل شـــوي پرنســـیپونه، لارې چارې او د ادبي مطالعاتو پر بنســـټیزو څانګو باندې رڼا اچول شوې ده.

په څلورم څپرکي کې د ادبی څېړنې عملي لارې چارې ښودل شوې دي. د څېړنې لپاره د موضوع انتخاب، د موضوع له ټاکلو مخکې د مطالعې اړتیا جدي بلل شوې ده. د موضوع ټاکنه د ابتدايي لیکلړ، انکشافي فهرست او اوټلاین جوړول او د څېړنیز کار پیل د علمي څېړنیز کار تر ټولو مهم پړاو بلل شوی دی. د لارښود

استاد علمي لاربښوونې ډېرې اړينې بلل شوې دي. د څېړنيز کار د نقشې او خاکې د جوړولو، د موادو د سرچينو پلټنې او پېژندنې، د مطالعې په دوران کې په يادښت اخيستلو باندې ټينګار شوی دی. د موادو راټولونې، د يادښتونو ډلبندي او د څېړنې لپاره د ميتود ټاکنه او په ميتوديک کارکې باوري منابع او روايت کوونکي معلوم وي او بيا په دغه بهير کې د لومړي لاس مأخذ ځانګړې ارزښت لري. په څېړنه کې د معتبرو منابعو شتون په ريفرنس پسې د ريفرنس لټون د څېړنيز اثر اعتبار زياتوي.

په پنځم څپرکي کې د ادبي څېړنې د ليکنې پړاوونه څرګند شوي دي. د څېړنيز اثر د ليکلو شرايط او وختونه ښودل شوي، د څېړنيز اثر د بيان ژبه او د افادې طرز په داسې ډول تشريح شوی چې بايد د څېړنيز اثر ژبه له هر ډول ابهاماتو او پېچلتياوو پاکه، عام فهمه، علمي او د لوستونکي لپاره د پوهېدو وړ وي. د معلوماتو تحليل او تفسير باندې بحث شوی دی. په څېړنه کې د معلوماتو ارزونه، سپړنه او په دې برخه کې د څېړونکي خپل نظر اغېز او رول حتمي بلل شوي دي. د ادبي ښکارندو تحليل او تفسير ډېر مهم کار دی چې په عين حالت کې دا کار ستونزمن هم دی. د معلوماتو راټولونه او ارزونه، د څېړونکي بنسټيزه دنده ده او هغه کولای شي د دې کار لپاره تر لاس لاندې منابع ښې وګوري، هضم يې کړي او په دې توګه خپل نظر او علمي تحليل ته روغه او د اثر لوستونکي د اطمينان وړ لاره پرانيزي. پر دې ټينګار شوی دی چې څېړونکی د څېړنې په هر پړاو کې ذهني حضور ولري. همدارنګه د څېړنيز اثر پر جوړښت او چوکاټ بندي، د سريزې پر ليکلو، د اثر مرکزي برخې(متن) په ترتيبولو، د څېړنې پايلې او د مطلوبې نتيجې په تر لاسه کولو، عملي وړانديزونو، ضميمې او د څېړنيز اثر بيا کتنې باندې رڼا اچول شوې ده.

د کتاب شپږم څپرکی د څېړنيز اثر د بشپړتابه تخنيکي اړخونو ته ځانګړی شوی دی. د سرچينو ښودلو اصول او لارې چارې روښانه شوې دي او دا په ګوته شوې ده چې د څېړونکي په وړاندې يوه ستره ستونزه د منابعو د کره کولو مسئله ده او علمي- څېړنيز اثر د تنظيم شوې پوهې ټولګه ده چې بايد هم په علمي- تخنيکي

بنسټونو ولاړ وي. په دې برخه کې د څېړونکو د تکنیکونو د انتخاب معیارونه سموالی، باوري توب، سمه کارونه او پرځای استعمال دی. د دې لپاره چې څېړونکی د جعلي سندونو ښکار نه شي، د کاغذ او رنګ تشخیص او ژبنی ارزونه، په څېړنه کې ځانګړی اهمیت لري. د معلوماتو د سموالي او کره توب د تثبیت لپاره له کره او لومړي لاس منابعو نه ګټه اخیستنه خاص ارزښت لري. یو مسلکي او ژمن (متعهد) څېړونکی په هغه وخت کې په ډېر ډاډ سره د راغونډ شوو معلوماتو په ارزونه، تحلیل او تفسیر باندې لاس پورې کولای شي چې د ده قضاوت د راټول شوو معلوماتو له چوکاټ نه د باندې و نه وځي، هوایي خبرې نه وي، بلکې د خپلې څېړنې او ارزونې په وخت کې مشخص سندونه، مأخذونه او مدارک هم په لاس کې ولري. وروسته د لمن لیکونو راوړل او د هغو عملي اړخونه هم په نظر کې نیول شوي او بیان شوي دي، د علمي بحث لنډېز او پایله تشریح شوې ده او د اثر په پای کې د څېړونکي له خوا د مشخصو، تحلیلي او عملي وړاندیزونو د ټولګې (مجموعې) په راوړلو باندې تاکید شوی دی. پر دې ټینګار شوی چې ښاغلی څېړونکی باید درانه لوستونکي د اثر لوستلو په پای کې داسې خوشي نه کړي، لکه یو څوک چې په یوه څلورلارې کې ودرېږي او حیران وي چې پرکومه خوا ولاړ شي. هغه څېړونکی چې د څېړنې میتودولوژي له اصولو سره بلد وي، نورو ته ښه لاره ښودلی شي چې ما د دې موضوع څېړنیز کار تر دغه ځایه پورې راورساوه، تاسې په دغو لوریو او استقامتونو کې خپل راتلونکي څېړنیز مزله ته دوام ورکړئ. د هرعلمي- تحقیقي اثر په پای کې د وړاندیزونو راوړل دومره ارزښتناک دي؛ لکه یو څوک چې په توره تیاره کې یوه څېړونکي ته ډیوه او څراغ ولګوي. د هر څپرکي په پای کې د موضوع د راټولولو او له تر لاس لاندې څېړنیزې موضوع څخه د مطلوبې نتیجې اخیستلو په خاطر په یو څو لنډو کرښو کې نتیجه او لنډېز کتلی او لوستلی شئ. له شپږم څپرکي وروسته د اثر پایله، وړاندیزونه او مأخذونه راوړل شوي دي.

د دغې علمي- تحقيقي پروژې د بشـــپړتـابه په کار کې د قدرمن لاربنـــود اســـتاد څېړنپوه دوکتور سيدمحی الدين هاشـمي له نيکو لاربنوونو څخه مننه کوم چې دا اثر يې په پوره حوصـله کتلی، ډېرې ښـېگنې ورزياتې کړې او خپلې علمي مرستې يې له ما څخه نه دي سپمولې.

همداشان ښاغلي عزت الله اديب، بصير سليمانخيل او يحيی انوري ته کورودانی وايم چې د موضوع اړوند يې انگليسي سرچينې زما په واک کې راکړې. له مسعود پښتون، څېړنوال محمد آصف احمدزي او څېړندوی محمد داؤد ناظم نه مننه کوم چې يو څو پښتو او دري کتابونه يې راکړي وو. د څېړونکي محمد يعقوب عبدالرحيمزي دې هم کور اباد وي چې د يوه عربي مأخذ په ترجمه کې يې له ما سره مرسته وکړه.